## د قضاء او څارنوالۍ څانګې لیرلید او ماموریت:

**لیرلید (Vision)**

د قضاء او څارنوالۍ څانګه هیله لري چې د اسلامي، ملي او اکاډومیکو اصولو او ارزښتونو سره د ټولنې د عدلیې، قضایي او حقوقي ارګانو لپاره پیاوړي کادرونه تربیه او د لا ارتقاء لپاره یې ټولنې ته وړاندې کړي، تر څو په عدلیې، قضایي او حقوقي برخو کې د پرمختګ او انکشاف لپاره رغنده برخه واخلي.

**ماموریت (Mission)**

د قضاء او څارنوالۍ څانګه هڅه کوي ترڅو هغه ځوانان چې غواړي په قضایي او حقوقي برخو کې لوړې زده کړې وکړي، د لوړ کیفیت، اسانه او معیاري زده کړو زمینه ورته مساعده کړي، تر څو ځوانان له نوموړو اسانتیاو څخه په ګټې اخیستنې سره خپلو اهدافو ته ورسېږي او د خپل هیواد او ولس لپاره د خدمت جوګه وګرځي.

## زده کړه ایزې موخې:

**د قضاء او څارنوالۍ څانګې فارغان به لاندې وړتیاوې ولري:**

- د کورنې، سیمه ایز او نړیوالو حقوقي مسائیلو وپشل او تحلیل.
- د اداري فساد په وړاندې مبارزه.
- د څانګې د کیفیت د لوړاوي معیارونه پلي کول.
- د څېړنې او نوښت روحیه پیاوړې کول.
- په قضایي او عدلیې ارګانونو کې د منازعاتو حل کول.
- په دولتي او غیر دولتي مؤسسو، ادارو او ارګانونو کې د کار کولو مهارت.
- د حقوقي پوهې او مسلکیتوب مهارت.
- د قضا، څارنوالۍ، وکالت دفاع، قضایي،حقوقي، عدلیې او نورو مهمو ادارو کې د کار کولو مهارت.
- په خصوصي او دولتي بنسټونو او شرکتونو کې د مشورې ورکولو مهارت.
- د دعوې او دفاع او د دعوې اقامې د څرنګوالي په اړه د اصولو او قواعدو زده کړه.

## د ازموینې، ارزونې او حاضرۍ اصول

د مضامینو ارزونې په لاندې تفکیک سره ترسره کېږي.

- د هر مضمون لپاره د کامیابۍ نمره (55٪) ده او همداراز په هر
- سمستر کې د (60٪) عمومي اوسط پوره کول لازمي ګڼل کېږي.
- صنفي ارزونې، کورنې کارونه، حاضري او صنفي فعالیتونه (20٪)
- منځنۍ ازموینه (20٪)
- وروستۍ ازموینه (60٪)
- په هغه مضامینو یا کورسونو کې چې عملي کارونو یا تطبیقاتو ته اړتیا نه لري، د نمرو ارزونه یې په حد اکثر ډول سره له (80٪) څخه محاسبه کېږي.
- په هر مضمون کې د حاضرۍ نصاب پوره کول حتمي دي، په درسي ساعتونو کې (75٪) حاضري پوره کول، په وروستۍ ازموینه کې د ګډون اساسي شرط دی.
- د مضمون د تطبیقاتو په ساعتونو کې له (25٪) څخه زیاته

غیرحاضري د هغه مضمون د تطبیقاتو د نمرو د محرومیت سبب کېږي.




## ارزښتونه:

- د اسلامي او افغاني ارزښتونو، اعتقاداتو او فرهنګونومراعاتول.
- په استادانو او محصلینو کې هیوادنۍ مینه راژوندۍ کول.
- په افغانستان کې د ټولو نافذه قوانینو رعایت.
- کیفیت او عدالت ته لومړیتوب ورکول.
- محصلینو ته تشویقي او زده کړه ایز چاپېریال برابرول.
- د علمي کادرونو او کارمندانو تشویقول.
- ګروپي کارونه حمایه کول.
- له هر ډول سیاسي او قومي تعصبه پاکه اداره رامنځته کول.





# CONTACT US

Phone: +93 702 300 728

Email: law@bost.edu.af

Web: www.bost.edu.af



## د قضاء او څارنوالۍ څانګي پېژندنه:

د قضاء ا و څاروالۍ څانګه په قضايي او حقوقي برخو کي محصلين روزي، په دې څانګه کي اکثره حقوقي مضامين تدريس کېږي، حقوق د ټولنـي د پرمختګ لپاره داسي چوکاټ جوړوي چي هغه د ژوند د ټولو اړخونو سره اړه لري، د حقوقو زده کړه ذهن ته وده ورکوي او تجربوي مهارتونه لمسوي. حقوقي پوهه داسي پياوړې دنده ده چي هم خپل حقوق او هم د نــــورو حقوق راپېژني، که چيري څوک غواړي د حقوقو په برخه کي تخصــص تر لاسه کړي، نو د حقوقو د ليسانس تر کچي زده کړي د هغه لپاره لومـړنی او بنسټيز ګام دی. د حقوقو زده کړه د نورو برخو لپاره هم اساسي نقش لري، د بيلګي په ډول اقتصاد، تجارت، بشري منابع، د دولت سيــــمه ايز ارګانونه او عمومي ادارات ټول له حقوقو څخه سرچينه اخلي. د قضــاء او څارنوالۍ څانګي له 1394 کال څخه تر دې مهـاله (7) دورې مجــــموعاً (132) نته نارينه او ښځينه فارغان قضايي او عدليي ارګانونو ته د خدمت لپاره وړاندي کړي دي.

حقوق او سياسي علومو پوهنځی

FACULTY OF LAW & POLITICALE SCIENCE

قضاء او څارنوالۍ څانګه

DEPARTMENT OF JUDICIARY

**Address**

Bost University Complex Lashkargah
Helmand Afghanistan